ورشہ اے نسیمہ کُل عالم پہ دا خبر کړه
خبرې غلغلې دَ علم دین دَ سمندره
اوس چه راتوئیږی راتوئیږی راوریږی دِ
تل رحمت نایابه پہ شبنم کوزه له بره
دا دَ دین چمن چه سر دوباره ئے سیراب کړو
خدایه له شیخ الحدیث لوګے له مال وسره
خدایه دِ دے مشعل لری روښانه دا دَ علم
وی دِ مستجابه دُعاګانے له مظهره

## (۳) عجیب الرحمٰن صاحب کسکر

خبره نور اوچت شه دَ شفق نه خندُنه دروُمه
څه ګرزه طالبه پہ خندا دِ مشتنه درُومه
تبسته بر فلک ته څه رشتیاله غرځنه درومه
قطعه دَ تنزیل رسئ کا لبس څُه هُم پہ بره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## مولانا عبد اللّٰه صاحب دَ نوښار

(۴) زوندی دِ آشنا نه شه دَ سرورؐ پہ برکت
سیف دِ خزانه شه دَ اکبرؓ پہ برکت
بتول زړونه دِ خانه شه دَ عمرؓ پہ برکت
حوُرے دِ ترانه شه دَ حیدرؓ پہ برکت
مضبوط دِ مدارج اوسه له سدِّ سکندره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
فاتح اوسه تهذیب دَ صلیب اُوهه ممدوح شه
الحاد پہ حیدری نعره خیبر کا چه مفتوح شه
معلول دَ محرک شه رګ شه یا پہ رګ کښے روح شه
عمل دَ خان سره کړه دَ کشتۍ دَ جسم نوُح شه
راهب د سیاست پہ ډاګه ووله دَ منبره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
اے علمه پہ عمل کښے عالمانو ته رنګ ورکا
پہ دغه رنګ کښے رنګ شه طالبانو ته رنګ ورکا
رنګونه تر نور لرے کا خاندانو ته رنګ ورکا
بے رنګه دی رنګ راوړه شاعرانو ته رنګ ورکا
دَ دے نوی عنوان دَ سیاستانو له سخنوَندره
ځان بچ کړه عبد اللّٰه چرے قربان نه شے د سنګره
دا اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## (۵) عبد الرحیم نِدا صاحب سرحدی

یو هسے انقلاب پہ کائناتو کښے پیدا کړه
چه شی واړه ذرّے دَ دغے رازه باخبره
ګل او غوټوکوه چمنستان کښے دَ احساس
ور تېره هره زېلمه ئے کړه پلورے له خېګره
شبنم دَ خپلے مینے پرِ هر ځائے دَ ګوهر کړه
پہ تپ دَ خپلے مینے ئے بوزه له عرشه بره
دا اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## (۶) محمّد نواز خان خټک صاحب (شیدو)

رحمت پہ دے کسانو حقّانی درس ئے جاری کړو
همت ئے رب نصیب کا ربّانی درس ئے جاری کړو
چه بنائی احادیث او قرآنی درس ئے جاری کړو
شی بچ بہ ضلالت نه روحانی درس ئے جاری کړو
خټکه اوس بہ نه کیږی ګیلے له مقدره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## (۷) محمّد نیاض صاحب فیاض شیدو

وی تل پہ اکوړی کښے دِ دار العلوم آباد
بزرګ شیخ الحدیث صاحب ئے ایښے دے بُنیاد
ګلزار ئے اکوړے کړو چرِ رامه شه دغم باد
خوشحاله دِ مدام وی چه دا رنګ ئے کړو ایجاد
خالق ئے درجه کړه له دے زیاته مقرّره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## (۸) نوُر محمد اُستاد (نوښار)

چه پر و بال ئے نه وی خټک بہ اوخېژی پہ بره
پرواز کله کیدے شی پہ هوا کښے بے وزره
غوږ ونه د عبرت او بنایه ماته دَ زړهٔ سره
خبر څو بہ خبر وی، خبرَ وومه بے خبره
سنګار دَ ناوی چرے شوے نه دے بے زیوره
تیارهٔ وه دو مره ډیره چه زما ترِ اوسټوه ویره
را اوخېژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## (۹) شان ګل اُستاد (زیارت کاکا صاحبؒ)

